
# د الله پاک د راضي

# کولو والا کارونه

**11-April-2024**



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

**(for Islamic Brothers)**

پهٔ 11 اپریل کال 2024ء د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د الله پاک د راضي کولو والا کارونه

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د اختر د شپږو روژو فضیلتونه
- ...درې کَرَته د بخښنې د دُعا برکت
- ... د شپې د عبادت فضیلتونه
- ... د اِیثار ثواب پهٔ مفتو کښې د حاصلولو نُسخې

پیشکش
اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: خپل مجلسونه په ما باندې په دُرُود شريف لوستلو ښائسته کړئ، ستاسو له خوا په ما دُرُود شريف لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نور وي.(1)

ذاتِ والا په بار بار دُرود | بار بار اور بے شُمار دُرود
قبر ميں خوب کام آتی ہے | بيکسوں کی ہے يارِ غار دُرود(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے. (3)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** ښۀ نيت بنده جنت ته رسوي، د بيان اوريدو نه

1...جامع صغير، صفحه:280، حديث:4580۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:123 تا125 ملتقطاً۔

3...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحه:65، حديث:1۔



www.dawateislami.net

مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ عِلمِ دِين به زده کووم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیہِ واٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ پاک نوم اوريدو به درودِ پاک لولم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## آه...! د رَمَضَانُ المُبَارَك مياشت رخصت شوه...!!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** څو ورځې مخکښينې خبره ده، د رَمَضَانُ المُبَارَك عاشقانو انتظار کولو چې د رَمَضَانُ المُبَارَك مياشت راتلونکې ده. د رَمَضَانُ المُبَارَك تياري کيدله ... او اوس وګورئ! دغه مُقَدَّسې، مبارکې مياشت مونږ له د جدايۍ غم راکړو او لاړه رُخصت شوه. اوس به پوره يولس مياشتې پس دا مُقدَّسه مياشت بيا تشريف راوړي، بيا به خوشحالۍ وي، رحمتونه به وي، برکتونه به وي خو...!! افسوس! پته نه لګي چې مونږ به دغه برکتونه وينو او که نه د هغې نه مخکښې به مړه شو او قبر ته به لاړ شو...!!

جب گزر جائیں گے ماہ گیارہ | تیری آمد کا پھر شور ہوگا
کیا مری زندگی کا بھروسا | اَلوداع اَلوداع آہ! رَمضاں(1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نيکانو خلقو يو عادت

يو بزرګ رَحمَۃُ اللہِ عَلَیہ فرمائي: ښځوانو خلقو به د رَمَضَانُ المُبَارَك نه شپږ مياشتې مخکښې د رَمَضَانُ المُبَارَك د موندلو او د رَمَضَانُ المُبَارَك نه پس شپږ مياشتې د رمضان د

1... وسائل بخشش، صفحہ:653۔



www.dawateislami.net

عبادت قبليدو دعاګاني کولي. (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ګويا چې اوس د دې دعاګانو کولو او د لاسونو مروړلو ورځې شروع شوې دي چې آه! مونږ د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك د مياشتې پهٔ صحيح معنو کښې قدر ونکړے شو، پهٔ دې باندې ارمان کول پکار دي او چې کومې څهٔ لږې ډيرې نيکۍ مو کړې دي، د هغې د قبليدو دعا کول پکار دي.

کچھ نہ حُسنِ عمل کر سکا ہوں | نَذر چند اشک میں کر رہا ہوں
بس یِہی ہے مِرا کُل اَثاثہ | اَلوَداع اَلوَداع آہ! رَمَضاں (2)

او اميرِ اهلسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَه پهٔ بارګاهِ رسالت کښې عرض کوي:

میں ہائے! جی چراتا ہی رہا ربّ کی عبادت سے | گزارا غفلتوں میں سارا رمضاں یارسولَ الله!
میں سوتا رہ گیا غفلت کی چادر تان کر افسوس! | خدارا !میری بخشش کا ہو ساماں یارسولَ الله! (3)

**الله** پاک دې مونږ ته پهٔ خپل غفلت د پښيمانه کيدو او د **الله** پاک نه د رحمت د سوالونو کولو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك يو خاصيت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك د مياشت هٔغه خاصيتونه کوم چې پهٔ حديثونو کښې بيان شوي دي، پهٔ هغې کښې يو اَهم او ډير ښکلے خاصيت دا هم بيان شوے دے چې ''**رمضان هٔغه مياشت ده کومه چې انسان له نوے ژوند ورکوي**''. پهٔ حديثِ

1...لطائف المعارف، وظائف شہر شعبان، المجلس الثالث...الخ، صفحہ:204۔

2... وسائلِ بخشش، صفحہ:653۔

3... وسائلِ بخشش، صفحہ:679۔



www.dawateislami.net

**پاک** کښې دي: مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِيمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ يعنې چا چې د ايمان سره، د ثواب ګټلو د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژې ونيولې، هغه د ګناهونو نه داسې ووتو لکه څنګه چې په هُغه ورځ وو، چې کله د هغهٔ مور هغه زيږولے وو. [1] **په يو بَل حديثِ پاک کښې دي:** چا چې د رمضان روژې ونيولې بيا يــې شپږ ورځې په شَوّال کښې ونيولې نو د ګناهونو نه داسې ووتو لکه چې هم نن د مور د ګيډې نه پيدا شوے وي. [2]

## د اختر [نه پس] د شپږو روژو فضائل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې حديثونو نه خو وړومبے د شَوّال د شپږو روژو فضيلتونه معلوم شول، دې ته د اختر [د مياشتې] شپږ روژې هم وئيلے شي، په روايتونو کښې دي: ❁ چا چې د رمضان روژې ونيولې بيا يــې د هغې نه پس په شَوّال کښې شپږ روژې ونيولې. نو داسې ده لکه چې ټول عمر يــې چې روژه ونيوله. [3] ❁ چا چې د وړوکي اختر نه پس په (شوال کښې) شپږ روژې ونيولې نو هغهٔ د ټول کال روژې ونيولې چې څوک يوه نيکي راوړي هغهٔ ته به لس ميلاويږي. نو د رمضان د مياشتې روژه د لسو مياشتو برابر ده او د دې شپږو ورځو په بدله کښې دوه مياشتې نو د ټول کال روژې شوې. [4]

## د اختر [د مياشتې] شپږ روژې کله نيول پکار دي؟

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د اختر د شپږو روژو...!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې د روژو نيولو سعادت مو نصيب شو، اوس د روژو نيولو يو معمول خو مو هسې هم

---

[1] ... مسند ابوداود طيالسی، جلد:4، صفحہ:115، حديث:2481۔

[2] ...مجمع الزوائد، کتاب الصيام، باب فيمن صام...الخ، جلد:3، صفحہ:322، حديث:5102۔

[3] ... مسلم، کتاب الصيام، باب استحباب صوم...الخ، صفحہ:424، حديث:1164۔

[4] ...الترغيب والترهيب، کتاب الصوم، الترغيب فی صوم ست...الخ، صفحہ:346، حديث:2۔



www.dawateislami.net

جوړ شوے دے، مونږ له پکار دي چې د اختر شپږ روژې هم اونيسو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د ټول عمر د روژو نيولو ثواب به مو نصيب شي. خَليلِ مِلَّت مفتي محمد خليل خان برکاتي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: که دا روژې د اختر نه پس مسلسل ونيولے شي نو بيا هم هيڅ باک نشته او بهتره دا ده چې په هره هفته کښې دوه روژې [ونيولے شي] او که د اختر په دويمه ورځ يوه روژه ونيولے شي او باقي په ټوله مياشت کښې ونيسي نو نوره هم مناسب معلوميږي. (1)

**غرض دا چې** د اختر په ورځ روژه نشي نيولے، د هغې نه پس په ټوله مياشت کښې چې کله هم غواړې د اختر شپږ روژې نيولے شې. **الله** پاک دې مونږ ته د نفلي روژو نيولو سعادت راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم

## د نوي ژوند نوې شروع

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حديثونو مبارکو نه دويمه خبره مونږ ته دا معلومه شوه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت نوے ژوند ورکوونکې مياشت ده، يعني چا چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې روژې ونيولې هغه د ګناهونو نه پاک شو، اوس هغه داسې دے لکه هم نن چې پيدا شوے وي. چې کوم کبيره [يعني غټ] ګناهونه دي لکه ❁ نمونځ نه کول ❁ روژه نه نيول ❁ مسلمانانو له ناحقه تکليف ورکول وغيره، د دې ګناهونو معافي خو صرف په توبه [او په تلافي] کيدے شي، البته بيا هم د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت د بخښنې مياشت ده، په دې کښې په زرګونو هُغه خلق بخښلے شي، په کومو باندې چې دوزخ واجب شوے وي نو مونږ د **الله** پاک د رحمت نه طمع ساتلے شو چې ممکن ده چې مونږ هم بخښلے شوي يو. بهر حال! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې نه پس اوس يو نوے

[1] ...سنی بہشتی زیور، صفحہ:347۔



www.dawateislami.net

ژوند شروع شوے دے. اوس مونږ ته واقعي دا يو نوے ژوند جوړول دي، يعنې يو زمونږ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه مخکښې ژوند وو، او يو دا ژوند دے کوم چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس شروع شوے دے، مونږ له پۀ دې دواړو کښې فرق کول پکار دي، مثلاً ❁ که مخکښې مو نـمونځ نه کولو نو اوس پينځه واړه نـمونځونه د جَمعې سره د کولو عادت جوړول دي ❁ که مخکښې مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کولو کښې سستي کوله نو اوس پۀ سُنَّتو باندې پابندۍ سره عمل شروع کول دي ❁ که مخکښې مو چرې بد عادتونه وو نو اوس ښۀ عادتونه اختيارول دي ❁ که مخکښې مو پۀ عبادت کښې سستي کوله نو اوس عبادتونو ته ملا تړل دي. غرض د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پۀ وروستو او مخکښې ژوند کښې واضحه فرق راوستل دي ځکه چې اوس مو يو نوے ژوند شروع شوے دے.

نمازوں میں مجھے ہر گز نہ ہو سستی کبھی آقا | پڑھوں پانچوں نمازیں باجماعت یا رسول اللہ! [1]

## د الله پاک د راضي کولو والا کارونه

اوس د خوشحالو ورځې دي، د اختر ورځې رواني دي او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس اوس زمونږ نوے ژوند شروع شوے دے نو راځۍ چې يو څو ايمان تازه کوونکي حديثونه واورو او دا پوخ نيت اوکړو چې پۀ دې حديثونو کښې کوم نيک اعمال ذِکر شوي دي، مونږ به پۀ هغه نيکو اعمالو پۀ خپل ژوند کښې مستقل طور عمل کوو.

دا کوم حديثونه چې مونږ اوس بيانوو، پۀ دې کښې يوه خاص خبره دا ده چې د ډيرو نيکو اعمالو مختلف فضيلتونه بيانيږي، پۀ يو نيک عمل باندې د جنّت زيرے ورکولے شي، پۀ يو نيک عمل باندې د دوزخ نه د ازادۍ زيرے ورکولے شي، پۀ يو نيک عمل

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:331۔



www.dawateislami.net

باندې پۀ قبر کښې د اسانۍ زيرے ورکولے شي خو دا کوم حديثونه چې مونږ اوس اورو، پۀ دې کښې چې د کومو نيکو اعمالو فضيلت بيان شوے دے، هغه ډير ځانګړے دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې حديثونو کښې فرمائيلي دي چې کله بنده دا نيک عمل کوي نو ضَحِكَ الله يعنې **الله** پاک هغه بنده ته اوګوري او مُسکے شي.

سُبْحٰنَ الله! د **الله** پاک مُسکا څنګه ده، دا به هغۀ ته ښکپله ښه معلومه وي، يقيناً د هغۀ مُسکا داسې نه ده، لکه څنګه چې زمونږه مُسکا ده، **الله** پاک د بدن او د بدن د لوازماتو نه پاک دے، د هغۀ شان ډير اوچت دے، د دې حديثونو پۀ شرح کښې علمائے کرام فرمائي: د **الله** پاک د مُسکي کيدو معنىٰ دا ده چې کله بنده دا کارونه کوي نو **الله** پاک د هغۀ نه ډير زيات راضي کيږي او پۀ هغۀ باندې ډير رحمتونه نازلوي. (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره زبردسته خبره ده...!! اوس د خوشحالو ورځې دي، خلق د خوشحالو کولو پۀ نوم پته نه لګي چې څۀ څۀ کوي، د خندلو او خندولو د پاره په يو بل پورې د ټوقو جُملې وئيلے شي، يو بَل تنګوي، د دروغو لطيفې وئيلے شي او پۀ زوره خنداګانې وي، دوستان ملګري يو ځائے ته راجمع شي او شور او ځوګ کوي، درز غوبل يـې جوړ کړے وي، کله پۀ يو پورې خندا کيږي او کله پۀ بَل پورې، کله د يو زړۀ ازارولے شي او کله د بَل، افسوس...!! د خوشحالو دا غير اخلاقي انداز زمونږه پۀ معاشره کښې ورځ په ورځ زياتيږي.

اَلْحَمْدُ لِله! اِسلام د خوشحالو مخالف نه دے، اِسلام خوشحالو ته وده ورکوي، څومره به ښۀ وي چې د خوشحالو پۀ دې موقعو باندې او بيا د دې نه پس ټول عمر هُغه اعمال وکړے شي چې کله بنده هغه کار کوي نو **الله** پاک هغه ته ګوري او مُسکے کيږي (يعنې

[1]...شرح مشكاة للطيبى، جز:4، صفحہ:1204، تحت الحديث:1228۔



www.dawateislami.net

د هغهٔ نه ډېر زيات راضي کيږي). او يو ډېر ښکلے حديث شريف درته بيان کړم...!! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي: اِذَا ضَحِكَ رَبُّكَ اِلٰى عَبْدٍ فِى الدُّنيا فَلَاحِسَابَ عَلَيْه يعنې چې کله ستاسو رَبّ پهٔ دُنيا کښې يو بنده ته وګوري او مُسکے شي نو د قيامت پهٔ ورځ به د هغهٔ سره حساب نه کيږي. [1]

سُبْحٰنَ الله! يعنې اوس چې به مونږ د کومو نيکو اعمالو پهٔ باره کښې اورو، د هغې دا دوه اهم فضيلتونه دي: (1): کوم بنده چې دا نيک کار وکړي الله پاک د هغهٔ نه ډېر زيات راضي کيږي او پهٔ هغهٔ باندې رحمتونه نازلوي (2): داسې خوش قِسمته به پهٔ ورځ د قيامت بے حسابه جنّت ته داخليږي.

بلا حساب ہو جنت میں داخلہ یاربّ! | پڑوس خُلد میں سَرور کا ہو عطا یاربّ! [2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ښکلي ښکلي نيک اعمال کوم کوم دي؟ راځئ چې واورو:

## (1): د ګناهونو معافي غوښتل

حضرت علي بن رَبيعه رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: يو ځل د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خدا رضی اللہ عنہ پهٔ سورلۍ کښيناستو، زهٔ يې پهٔ ځان پسې کښينولم او د حِرَّه (نومې علاقې) پهٔ لور روان شو، پهٔ تلو تلو کښې هغوئ اسمان ته مخ کړو، بيا يې ولوستل:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِى ذُنُوبِى اِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ أَحَدٌ غَيْرُكَ

ترجمه: اے الله پاکه! زما ګناهونه اوبخښې، بے شکه ستا نه علاوه څوک هم د ګناهونو بخښلو والا نشته.

حضرت علي بن رَبيعه رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د دې لوستلو نه پس حضرت مولیٰ علي شيرِ

[1] ...مسند احمد، تتمہ مسند الانصار، جلد:9، صفحہ:256، حدیث:23116۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:82۔



www.dawateislami.net

خُدا رضی اللہ عنہ ما ته وکتل او مُسکے شو. زهٔ ډېر حیران شوم، ما پوښتنه وکړه: اے اَمیرُ المُؤمِنین! تاسو وړومبے اِستغفار وکړو (یعني د الله پاک نه مو د ګناهونو معافي وغوښتله) بیا مو ما ته وکتل او مُسکے شوئ، پهٔ دې کښې څهٔ راز دے؟

زما دا پوښتنه یـې چې واورېدله نو حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ ما ته یوه واقعه بیان کړله (د خپل تیر وخت یو یاد یـې تازه کړو) اوئې فرمائیل: یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم پهٔ سورلۍ باندې تشریف فرما شو، ما ته یـې پهٔ ځان پسې د کښیناستو شرف راعطا کړو او (لکه څنګه چې نن مونږ د حِرَّه پهٔ لور روان یو، هم داسې) د حِرَّه پهٔ لور روان شولو، پهٔ تلو تلو کښې هغوئي د اسمان پهٔ لور مخ کړو، بیا یـې دا ولوستل (څهٔ چې ما ولوستل چې):

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی ذُنُوبِی اِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوبَ اَحَدٌ غَیْرُکَ

ترجمه: اے الله پاکه! زما ګناهونه اوبخښې، بے شکه ستا نه علاوه څوک هم د ګناهونو بخښلو والا نشته.

بیا هغوئي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم زما طرف ته نُوراني مخ راوړلو او مُسکے شولو، پهٔ دې باندې ما هم هُغه پوښتنه وکړه کومه چې تا هُم زما نه اوکړه چې یا رَسولَ الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ! د دې عمل مبارک څهٔ حِکمت دے؟ هغوئي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ووفرمائیل: اے علي! چې کله بنده د الله پاک نه د ګناهونو معافي اوغواړي نو الله پاک د هُغه بنده نه خوشحاله شي او مُسکے شي، بس هم د الله پاک د دې مُسکا پهٔ وجه زهٔ هم مُسکے شوم. (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې خبره ده...!! اَوَّل خو پهٔ دې روایت کښې د مولیٰ علي رضی اللہ عنہ انداز ته وګورئ! د هغوئي د خوږ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم سره محبت ته وګورئ! هغوئي پوره طور هُغه نقشه جوړه کړه، خوږ نبي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم پهٔ سورلۍ تشریف فرما شوے وو،

[1] ... مصنف ابن ابي شيبه، كتاب الدعا، باب ماكان يدعوبه ... الخ، جلد:7، صفحه:63، حديث:12۔



www.dawateislami.net

مولیٰ علي رضی اللہ عنہ هم پهٔ سورلی تشریف فرما شو، هغوئي صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم هم مولیٰ علي رضی اللہ عنہ پهٔ ځان پسې شاته کښېنولے وو، مولیٰ علي رضی اللہ عنہ هم حضرت علي بن ربیعه رحمۃ اللہ علیہ پهٔ ځان پسې شاته کښېنولو، هغوئي صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم د حِرَّه پهٔ لور روان شوے وو، مولیٰ علي رضی اللہ عنہ هم د حِرَّه پهٔ لور روان شو، هغوئي صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم اسمان ته مخ کړے وو، مولیٰ علي رضی اللہ عنہ هم اسمان ته مخ کړو، هغوئي صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم د بخښنې دُعا لوستلې وه، مولیٰ علي رضی اللہ عنہ هم ولوستله، هغوئي صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم هم شاته کتلي وو او مُسکے شوے وو، مولیٰ علي رضی اللہ عنہ هم شا ته وکتل او مُسکے شو، يعنې پوره هغه نظاره کومه چې د رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم سره رامخې ته شوې وه، مولیٰ علي رضی اللہ عنہ هم هُو بهُو هغه نظاره جوړه کړه، بيا يې د هغوئي صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم حديث بيان کړو.

سُبْحٰنَ اللہ! دا دے د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم د سُنَّتو سره محبت...!! بيا مونږ ولې اونه وايو:

| | |
|---|---|
| هر صحابيِ نبي! جنتي جنتي | تولې صحابياتې هُم! جنّتي جنّتي |
| خلور ياران د نبي! جنّتي جنّتي | حضرت صِدِّيق هُم! جنّتي جنّتي |
| او عمر فاروق هُم! جنّتي جنّتي | عثمانِ غني! جنّتي جنّتي |
| فاطمه او علي! جنّتي جنّتي | حَسَن او حُسَين هُم! جنّتي جنّتي |
| والدين د نبي! جنّتي جنّتي | هره زوجهٔ نبي! جنّتي جنّتي |
| حضرتِ معاويه! جنّتي جنّتي | او ابوسُفيان هُم! جنّتي جنّتي |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ګناهونو د معافۍ غوښتو عادت جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مولیٰ علي رضی اللہ عنہ د بيان کړے شوي **حديثِ پاک** نه معلومه شوه چې کله بنده د **الله** پاک نه د خپلو ګناهونو معافي اوغواړي نو داسې بنده نه **الله**



www.dawateislami.net

پاک ډېر زيات خوشحاليږي او د خپل شان مطابق مُسکے کيږي چې وګوره! زما بنده ته معلومه ده چې د هغه نه ګناه شوې ده او دا ورته هم معلومه ده چې زما مالِک ګناه بخښونکے دے.

سُبْحٰنَ الله! مونږ له هم د معافۍ غوښتلو عادت جوړول پکار دي...!! پۀ معنې باندې د نظر ساتلو سره د اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی لوستلو معمول جوړ کړئ! که زيات نه وي نو روزانه کم از کم يو تسبيح (يعنې 100 کَرَته) يې لولئ! د اِستغفار نور الفاظ هم دي، اَسْتَغْفِرُ الله! اَسْتَغْفِرُ الله! لوستل، سَيِّدُ الْاِستِغْفَار (کومه چې پۀ شجره عاليه قادريه عطّاريه کښې ليکلے شوې ده، هغه) لولئ! غرض چې د **الله** پاک نه د خپلو ګناهونو د معافۍ غوښتلو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د **الله** پاک رضا موندل او د قيامت پۀ ورځ به بغير د حِساب نه جنّت ته تلل درنصيب شي.

## د اِستِغفار فضيلتونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! **الله** پاک پۀ اِستغفار کښې ډېر طاقت کيښودے دے. يو ځل اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه له يو ګس راغلے او د باران نۀ کيدو شکايت يې وکړو، هغوئي ووفرمائيل: اِستِغفار کوه! دويم ګس راغلے، هغۀ د تنګ لاسۍ [يعنې غريبۍ] شکايت وکړو، هغوئي هغه ته هم ووفرمائيل: اِستِغفار کوه. لږ سعت پس دريم ګس راغلے، هغۀ د اولاد پيدا کيدو د پاره عرض وکړو: هغۀ ته يې هم ووفرمائيل: اِستِغفار کوه. لږ سعت تير شوے وو چې خلورم ګس راغلے، هغۀ د فصل د پيداوار د کمي شکايت وکړو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه هغۀ ته هم د اِستِغفار کولو حکم وکړو. حضرت رَبِيع بِن صَبِيح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه هلته حاضر وو، هغوئي عرض وکړو: جناب عالي! يو څو ګسان راغلل، ټولو بدل بدل حاجتونه عرض کړل خو تاسو ټولو ته هم يوه وظيفه ووئيله، د دې څۀ وجه ده؟ د دې پۀ جواب



www.dawateislami.net

کښې امام حسن بصري رحمۃُ اللہِ علیہ د 29 سيپارې، د سُوْرَةُ النُّوح، آيت: لسم نه دولسم پورې تلاوت ووفرمائيلو، ارشاد دے: (1)

اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۙ﴿۱۰﴾ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّ يُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ وَ يَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّ يَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ؕ﴿۱۲﴾

[مفهوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: (اے خلقو!) د خپل **رب** نه بخښنه اوغواړئ، بیشکه هغه ډیر معاف کوونکے دے (۱۰) هغه به په تاسو په شیبو وریدونکے باران راولیږي (۱۱) او د مالونو او ځامنو په ذریعه به ستاسو مدد اوکړي او تاسو لره به باغونه جوړ کړي او ستاسو د پاره به نهرونه جوړ کړي (۱۲).

**په تفسیرِ صراطُ الجنان کښې د دې آيت لاندې دي:** د ډيرو تجربو نه ثابته ده چې د اولاد د پاره، د باران غوښتو، د تنګ لاسۍ [يعني غريبۍ] نه د نجات او په پيداوار کښې د زياتوالي د پاره اِستِغفار کول بهترين قرآني عمل دے. (2)

## درې کَرَته د بخښنې د دُعا برکت

امام اَبُو اللَّيث سمر قندي رحمۃُ اللہِ علیہ ليکي: په مخکښينو قومونو کښې يو کَس وو، هغهٔ ډير ګناهونه کړي وو، يو ځل هغهٔ د خپل تير ژوند په باره کښې سوچ وکړو، په ګناهونو باندې يـې غور او فِکر وکړو نو هغهٔ پښيمانه شو، هغهٔ پښيمانه او شرمنده شو او درې کَرَته يـې ووئيل: اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَكَ، اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَكَ، اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَكَ مولیٰ! ستا بخښنه... اِلٰهی! ستا بخښنه، اے **الله** پاکه! ستا بخښنه. هغه په هُم هغه وخت مړ شو او **الله** پاک اوبخښلو. (3)

---

1... صراط الجنان، پارہ:29، سورۂ نوح، تحت الآیۃ:10-12، جلد:10، صفحہ:367۔

2... صراط الجنان، پارہ:29، سورۂ نوح، تحت الآیۃ:10-12، جلد:10، صفحہ:367۔

3... تنبیہ الغافلین، باب التوبہ، صفحہ:53۔



www.dawateislami.net

تُو بے حساب بخش کہ ہیں بے شُمار جرم | دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا[1]

## د اِستِغفار برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله پاک پهٔ بارګاه کښې د اِستِغفار ډېر برکتونه دي ❁ مثلاً د دې يو ډېر لوئي عظيم برکت دا دے چې د دې پهٔ وجه د بنده تنګي او غم لرې کيږي، پهٔ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې هميشه اِستِغفار کوي، الله پاک د هغهٔ د پاره د هرې تنګئ نه د وتو لار راوباسي، د هر فِکر او غم نه هغهٔ ته نجات عطا کوي. [2] ❁ د دې يو برکت دا هم دے چې داسې بنده ته الله پاک غيبي رزق عطا کوي، پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِستِغفار کوونکي ته به الله پاک د داسې ځائے نه رزق عطا کوي د چرته نه چې د هغهٔ ګمان هم نه وي. [3] ❁ د دې پهٔ برکت سره الله پاک د زړهٔ نه زنګ لرې کوي، پهٔ حديثِ پاک کښې دي: بے شکه د اوسپنې پهٔ شان زړونه هم زنګ نيسي او د دې صفائي کول اِستِغفار دے. [4] ❁ الله پاک دې مونږ ته د اِستِغفار کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

مُعَاف فضل و کرم سے ہو ہر خطا یارب | ہو مغفرت پئے سلطانِ انبیا یارَبّ!
نبی کا صدقہ سَدا کے لئے تُو راضی ہو | کبھی بھی ہونا نہ ناراض یاخُدا! یارَبّ![5]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...ذوقِ نعت، صفحہ:18۔
2 ...ابو داود، کتاب الصلاۃ/ الوتر، باب فی الاستغفار، صفحہ:247، حدیث:1518
3 ...ابن ماجہ، کتاب الادب، باب الاستغفار، صفحہ:612، حدیث:3819۔
4 ...مجمع الزوائد، کتاب التوبہ، باب ماجاء فی الاستغفار، جلد:10، صفحہ:350، حدیث:17575۔
5 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:82۔



www.dawateislami.net

## (2): د شپې عِبَادت

د صحابئ رسول حضرت ابو ذَر غِفاري رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د **الله** پاک آخري نبي، مکي مَدَني صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم فرمائيلي دي: درې بندګان دي، **الله** پاک چې هغوئي ته اوګوري نو مُسکے کيږي او ډير خوشحاليږي: **(1):** هُغه بنده کوم چې د شپې راپاڅي، بستره پريږدي، په ښه طريقه اودس وکړي، بيا د نـمونځ کولو د پاره اودريږي، هغهٔ ته چې **الله** پاک اوګوري نو فرښتو ته فرمائي: اے فرښتو! ووايئ! زما بنده دې نيکئ ته کوم څيز راپارولے دے؟ فرښتې عرض کوي: مولیٰ! تا ته بهتره معلومه ده. **الله** پاک فرمائي: آؤ! ما ته معلومه ده خو تاسو ما ته ووايئ! فرښتې عرض کوي: اے کريم مالِکه! تا دهٔ ته د يو څيز (يعنې دوزخ) ويره ورکړې ده، دے د هغې نه ويريږي، تا دهٔ ته د يو څيز (يعنې جنّت) طمع ورکړې ده، دے د هغې اميد ساتي، هم دا ويره او اُمِّيد دي، چې پهٔ دهٔ يـې د شپې خوب قربان کړے دے او ستا پهٔ حُضُور کښې يـې اودريدو ته راپارولے دے. بيا **الله** پاک فرمائي: اے فرښتو! ګواه شئ! دے چې د کوم څيز نه ويريږي، ما خپل بنده ته د هغې نه اَمن عطا کړو او د څهٔ چې اُمِّيد ساتي، هغه (يعنې جنّت) مې د دهٔ د پاره واجب کړو. **(2):** دويم هُغه کَس دے کوم چې د حق او باطِل پهٔ جنګ کښې شريک شي، ثابت قدم پاتې شي، تر دې چې شهيد شي يا **الله** پاک هغهٔ ته فتح عطا کړي (هُغه بنده ته چې **الله** پاک اوګوري نو هُم مُسکے کيږي) **(3):** او دريم هُغه بنده دے کوم چې د شپې سفر کوي، تر دې پورې چې د شپې پهٔ آخرئ حصه کښې چې کله [دمې د پاره] ايسار شي نو د هغهٔ ملګري اوده شي خو هغه اودريږي او نـمونځ کوي (دې بنده ته چې



www.dawateislami.net

اوکوري نو هم **الله** پاک مُسکے کيږي). (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ! څومره خوش قِسمته دے هغه بنده کوم چې د شپې راپاڅي، خوب قربان کړي، پۀ صحيح طريقه اودس وکړي او د **الله** پاک پۀ حُضُور کښې اودريږي، دا هغه خوش قِسمته دے چا ته پۀ کتلو چې **الله** پاک مُسکے کيږي.

## (3-4): د شپې دُرُود وئيل او تِلاوت کول

د عظيم صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ووفرمائيل: چې يو بنده د شپې راپاڅي، پۀ صحيح طريقه اودس اوکړي، بيا د **الله** پاک حمد بيان کړي، د هغۀ بزرګي بيان کړي، پۀ خپل نبي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم باندې درود ولولي او قرآن برسيره کړي او لوستل شروع کړي، دا هغه بنده دے کوم ته چې په کتلو سره **الله** پاک مُسکے کيږي او فرمائي: وګوره! زما بنده عبادت کوي حالانکه زما نه علاوه يې هيڅوک هم نهويني. (2)

## (5):صفونه نيغ ساتل

حضرت ابو سعيد خدري رضی اللہ عنہ فرمائي: رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: درې بندګانو ته چې اوګوري نو **الله** پاک مُسکے کيږي **(1):** يو هغه قوم کوم چې پۀ نـمونځ کښې صفونه سيدها کوي **(2):** هغه بنده کوم چې د **الله** پاک پۀ لار کښې جهاد کوي **(3):** دريم هغه بنده کوم چې د شپې پۀ تيارۀ کښې عبادت کوي (دوئي ته چې اوګوري نو **الله** پاک مُسکے شي). (3)

---

[1] ...زہد لابن مبارک، باب فضل ذکر اللہ، جز:9، صفحہ:345، حدیث:1212۔

[2] ...عجالۃ الراغب، باب مایقول اذا تعار من اللیل، صفحہ:878، حدیث:765۔

[3] ...مصنف ابن ابی شیبۃ، کتاب الصلاۃ، باب ما قالوا فی اقامۃ الصف، جلد:1، صفحہ:388، حدیث:15۔



www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ټول پینځه کارونه دي: (1): د شپې نـمونځ کول (2): د شپې په تنهایۍ کښې درود شریف لوستل (3): تلاوت کول (4): د شپې په تیارۀ کښې هر یو عبادت کول (5): او په نـمونځ کښې صفونه سیدها ساتل. اوس وګورئ! دا هیڅ ګران کارونه نۀ دي...، د شپې راپاڅئ، دوه رکعته نـمونځ وکړئ، چې څومره کیدے شي درودِ پاک ولولئ! څومره چې کیدے شي د قرآنِ کریم تلاوت وکړئ! که زیات نه وي نو سُورۀمُلك ولولئ! او چې کله د جَمعې سره د نـمونځ د پاره جوماټ ته حاضر شئ نو د صف سیدها کولو د پاره خپلې پوندې او اُوګې په یو سیده کښې د ساتلو خیال ساتئ! دا مختصر کارونه کول دي او د دې فضیلت څومره عظیم دے یعني کوم بنده چې دا کارونه کوي، هغۀ داسې خوش قِسمته دے چې د هغۀ رَبّ عَزَّوَجَلَّ د هغۀ په دې عمل باندې مُسکے کیږي، د هغۀ نه ډیر زیات راضي کیږي او دا هٰغه خوش قِسمته دے کوم چې به اِنْ شَآءَاللہُ الْکَرِیم! بغیر د حِساب نه جنّت ته داخلیږي.

## د شپې د عبادت فضیلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د رَمَضَانُ المُبَارَك نه پس اوس زمونږ نوے ژوند شروع شوے دے، پوخ نیت وکړئ! چې د اوس نه به راتلونکے ټول ژوند زمونږ دا معمول وي چې روزانه به د شپې که زیات نه وي نو کم از کم یوه ګینټه به د الله پاک د عبادت د پاره ضرور خاص کووم، نن سبا د ځلمو شپې عموماً په فضولیاتو کښې تیریږي، په سوشل میډیا چلولو کښې، په موبائل باندې په مختلفو څیزونو کتلو کښې، په فیس بک، انسټا ګرام وغیره باندې چیټنګ کولو کښې یـې شپې تیریږي، څومره څومره ګینټې تیریږي، اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! که زیات نه وي نو کم از کم یوه ګینټه د الله پاک د یاد د



www.dawateislami.net

پاره اوباسئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! هغه برکتونه به مو نصيب شي د کومو چې هيڅ جواب نشته.

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! شپې د الله پاک پهٔ عبادت کښې تيرول د ايمان والؤ صفت دے، الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّ عُيُوْنٍ ﴿۱۵﴾ اٰخِذِيْنَ مَاۤ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶﴾ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ (پارہ:26، الذّٰریات:15، 17)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ الْعِرفان: بيشکه پرهيزګاره خلق به په باغونو او چينو کښې وي (۱۵) د خپل رب عطا کانو اخستلو سره، بيشکه هغوئي د دې نه مخکښې نيکئ کوونکي وو (۱٦) هغوئي به د شپې کم اُوده کيدل (۱۷)

د الله پاک آخري نبي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شپې د عبادت ډير فضيلتونه بيان کړي دي: راځئ تاسو ته هُم يو څو روايتونه بيانووم ❁ د شپې قيام (نفلي نـمونځ) رَبّ تَعَالٰی ته د نزدې کيدو سبب دے، د ګناهونو اومَعاصي ختمولو والا او د ګناهونو نه منع کوونکے دے.[1] ❁ د شپې نـمونځ کوه، پهٔ دې حال کښې چې خلق اوده وي تهٔ به پهٔ سلامتيا سره جنّت ته لاړ شې.[2] ❁ يقيناً پهٔ جنّت کښې څهٔ داسې کوروته هم دي، د کومو د دننه نه چې د هغې بهر والا حصه ليدلے شي او د هغې د بهر نه د دننه والا حصه ليدلے شي. يو اَعرابي (د کلي اوسيدونکے يو کَس) اودريدو او پوښتنه يې وکړه: اے د الله رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا کورونه د چا د پاره دي؟ نبيِّ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: چا چې ښې خبرې وکړې، پهٔ خلقو يې طعام اوخوړلو، پهٔ روژو يې هميش والے اختيار

---

1 ...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحہ:811، حدیث:3549۔

2 ...ابن ماجہ، کتاب اقامۃ الصلاۃ والسنۃ فیہا، باب ماجاء فی قیام اللیل، صفحہ:215، حدیث:1334۔



www.dawateislami.net

کړو او د شپې يې نمونځ ادا کړو، چې کله خلق اوده وي. [1] ❁ د فرضو نه پس افضل نمونځ د شپې نمونځ دے. [2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دومره عظيم اجر او ثواب حاصلولو د پاره د شپې د څۀ نا څۀ نفلي عبادت عادت ضرور جوړول پکار دي، هسې هم د شپې نفلي عبادت د ورځې د نفلي عبادت نه افضل او اعلیٰ دے، علمائے کرام بيانوي چې د شپې (نفلي) نمونځ او عبادت د ورځې د (نفلي) نمونځ او عبادت نه بهتر دے د دې مختلفې وجهې دي: **(1):** د شپې پۀ نمونځ کښې مشقت [يعني محنت] دے چې د خوب نه راپاڅيدل دي **(2):** د شپې پۀ نمونځ او عبادت کښې ريا او خلقو ته د ښودلو انديښنه نه وي ځکه چې

جب سارا عالم سوتا ہے | وہ رات کو جاگا کرتے ہیں

**(3):** د شپې د تنهايۍ والا عبادت کښې د عاجزۍ، د زړۀ لګيدو او د زړۀ د سکون خوند زيات وي ځکه د دې ثواب هم زيات دے. [3] **(4):** د شپې د لږ شان اوده کيدو نه پس راپاڅيدل او عبادت کول د ورځې پۀ مقابله کښې د ژبې او زړۀ ترمينځه د زيات موافقت سبب دے. **(5):** دغه وخت د قرآنِ پاک پۀ تلاوت کولو او پوهيدلو کښې زړۀ زيات متوجّه وي ځکه چې پۀ دغه وخت کښې شور ځوږ نه وي بلکې سکون او اطمينان وي کوم چې د زړۀ متوجّه کيدو ډيره لويه ذريعه ده. [4]

## د شپې عبادت او بخښنو!

[1] ...ترمذی، کتاب البر والصلۃ، باب ماجاء فی قول المعروف، صفحہ:483، حدیث:1984۔

[2] ...مسلم، کتاب الصیام، باب فضل صوم المحرم، صفحہ:424، حدیث:1163۔

[3] ...تفسیر نعیمی، پارہ:19، سورۂ فرقان، زیرِ آیت:64، جلد:19، صفحہ:158۔

[4] ...صراط الجنان، پارہ:19، سورۂ فرقان، زیرِ آیت:64، جلد:7، صفحہ:52۔



www.dawateislami.net

حضرت قَبِیصَه بن عُقبَه رحمۃ اللہ علیہ فرمائي چې حضرت سُفیان ثوري رحمۃ اللہ علیہ ما د وفات نه پس پۀ خوب کښې ولیدو او پوښتنه مې ترینه وکړه: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ یعنې **اللّٰه** پاک ستاسو سره څۀ معامله ووفرمائیله؟ نو هغوئي جواب راکړو چې ما د خپل **رَبّ** کریم دیدار وکړو نو **اللّٰه** پاک ما ته ووفرمائیل: اے ابنِ سعید! ستا دې مبارک شي، زۀ ستا نه راضي یم، ځکه چې کله به شپۀ شوه نو تا به د اوښکو توئیولو او د ژړغوني زړۀ سره زما عبادت کولو، جنّت ستا مخې ته دے کوم محل چې اخستل غواړې واخله او تۀ زما زیارت کوه، ځکه چې زۀ ستا نه لرې نه یم. [1]

عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا! یاالٰہی! [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صفونو سیدها ساتلو فضیلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! هغه خلق کوم چې پۀ نـمونځ کښې صفونه سیدها کوي، د هغوئي پۀ باره کښې هم بیان شول چې **اللّٰه** پاک هغوئي ته ګوري او مُسکے کیږي.

د افسوس خبره ده چې نن سبا پۀ دې معامله کښې هم ډیره سستي کیږي، عموماً امام صاحب د جَمعې نه مخکښې اعلان کوي چې خپلې پوندې، څټونه او اوګې پۀ یو سمي کښې کړئ چې صفونه سم شي! د دې باوجود هم ډیر خلق د امام صاحب پۀ اعلان هډو غوږ نه ګروي، یعنې صفونه نه سیدها کوي.

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یاد ساتئ! پۀ نـمونځ کښې صفونه سیدها کول څۀ

[1] حلیۃ الاولیاء، جلد:7، صفحہ:77بتغیر۔
[2] وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔



www.dawateislami.net

عامه معامله نه ده، د دې چې کوم نقصانونه پهٔ حدیثونو کښې بیان شوي دي، ډېر سخت دي. ❁ صفونه نه سمول د واجب پرېښودل، ناجائزه او ګناه ده. (1) ❁ د صف نه سمولو په وجه نـمونځ ناقص پاتې شي. (2) ❁ صف نه سمول پهٔ نـمونځ کښې د وسوسو راتللو سبب دے، **پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** فراخي [خالي ځایونه] ډک کړئ! ځکه چې شیطان ستاسو پهٔ مینځ کښې د ګډې د بچي پهٔ شان ننوځي. (3) ❁ پهٔ صف نه سیدها کولو کښې د مخ ورانېدو اندیښنه ده، د حضرت ابو امامه رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې رسولِ کریم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائیلي دي: ضرور به تاسو صفونه سیدها کوئ یا به ستاسو شکلونه وران کړے شي یا به مو سترګې واخستے شي. (4) ❁ صفونه نه سمول د رحمت نه د لرې کیدو سبب دے، **حدیثِ پاک دے:** څوک چې صف مات کړي، **اللّٰه** پاک به هغهٔ مات کړي، **د دې لاندې پهٔ فیض القدیر کښې دي:** یعنې **اللّٰه** پاک هغه د ثواب او د رحمت نه لرې باسي یا هغهٔ ته د نیکۍ نور توفیق نه میلاویږي. (5) ❁ د صف کږیدو سره زړونه کاږه کیږي، اِختلاف زیاتیږي او جنګ جګړې پیدا کیږي، د خوږ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دوه فرامین مبارک: **(1):** سیدها اوسئ، جُدا جُدا مهٔ اوسئ ګنې ستاسو زړونه به جُدا شي. (6) **(2):** د **اللّٰه** بندګانو! خپل صفونه سیدها کړئ! ګنې **اللّٰه** پاک

---

1... عمدۃ القاری، کتاب الأذان، باب تسویۃ الصفوف... الخ، جلد:4، صفحہ:354، تحت الحدیث:718 ماخوذًا۔

2... مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحہ:183 ملخصًا۔

3... مسند امام احمد، مسند الانصار، جلد:9، صفحہ:198، حدیث:22901۔

4... مسند امام احمد، مسند الانصار، جلد:9، صفحہ:188، حدیث:22861۔

5... فیض القدیر، جلد:6، صفحہ:306، حدیث:9076۔

6... مسلم، کتاب الصلاۃ، باب تسویۃ الصفوف واقامتها... الخ، صفحہ:169، حدیث:432۔



www.dawateislami.net

به ستاسو پهٔ مینځ کښې اختلاف واچوي. (1)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ! څومره اهمه معامله ده...!! صفونه نه سیدها کول صرف د یو نـمونځ معامله نه ده، د دې اثر زمونږ پهٔ خپل مینځ کښې سلوک باندې بلکې پهٔ ټوله معاشره باندې پریوځي، ځکه مونږ له پکار دي چې پهٔ نـمونځونو کښې صفونه سم ساتو.

## د فرښتو پهٔ شان صفونه جوړ کړئ!

د قرآنِ کریم یو سُورت دے: سورۂ صَافّٰت، د دې مبارک سُورت پهٔ وړومبي آیت کښې اللّٰه پاک فرمائي:

وَ الصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۙ﴿۱﴾
(پاره:23، سورۂ صَافّٰت:1)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: د هغوئي قسم کومو چې باقاعده صفونه تړلي دي.

حضرت عبد اللّٰه بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائي: دلته د صفونو جوړونکو نه مُراد فرښتې دي. (2) حضرت جابِر بن سَمُره رضی اللہ عنہ فرمائي: یوه ورځ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم تشریف راوړلو او اوئې فرمائیل: تاسو داسې صفونه ولې نه جوړوئ څنګه چې یـې فرښتې جوړوي. مونږ عرض وکړو: یَا رسولَ اللّٰه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرښتې څنګه صفونه جوړوي؟ اوئې فرمائیل: مخکښې وړومبے صف پوره کوي او د یو بَل سره ښهٔ جُخت اودریږي. (3)

## اللّٰه پاک بنده فرښته صفت لیدل خوښوي

---

1... مسلم، کتاب الصلاۃ، باب تسویۃ الصفوف واقامتھا...الخ، صفحہ:169، حدیث:436۔

2... تفسیرِ خازن، پارہ:23، سورۂ صافات، زیر آیت:1، جلد:4، صفحہ:15۔

3... تفسیر بغوی، پارہ:23، سورۂ صافات، زیر آیت:1، جلد:3، صفحہ:653۔



www.dawateislami.net

**پهٔ تفسير طبري کښې دي:** د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ معمول مبارک وو چې کله به يې جَمع ورکوله نو نـمونځ کوونکو ته به يې فرمائيل: صفونه سيدها کړئ! اے فلانکيه تۀ لږ راځکښې شه! اے فلانکيه! تۀ شاته شه! بيا به يې فرمائيل: **بے شکه الله پاک تاسو د فرښتو پهٔ شان ليدل خوښوي.** (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې پهٔ نـمونځ کښې صفونه سيدها ساتل د فرښتو صفت دے، مونږ له هم پکار دي چې د خپلو صفونو سيدها کولو عادت جوړ کړو. پهٔ روايتونو کښې دي ❁ صف سيدها ساتل د نـمونځ حُسن دے. (2) ❁ د وړومبو صفونو سره پهٔ ميلاويدونکو باندې **الله** پاک او فرښتې دُرود ليږي. (3) ❁ د صف پوره کولو د پاره پورته کيدونکي قدمونه د **الله** پاک خوښ دي. (4) ❁ څوک چې د صف خالي ځائے ډَک کړي، د هغهٔ بخښنه به اوشي. (5) ❁ صف پوره کول د وَسوسو نه بچ کول کوي.(6) ❁صف سيدها کول زړونه سيدها ساتي. (7) ❁ پهٔ صف کښې د يو بل سره لګيدلي اودريدو سره زړونه ميلاويږي، اِتحاد زياتيږي او د شيطان نه حفاظت کيږي.

## (6): اِيثار کول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هغه نيک کارونه پهٔ کومو چې **الله** پاک رضا

[1] ... تفسیر طبری، پارہ:23، سورۂ صافات، زیرِ آیت:166، جلد:10، صفحہ:539، حدیث:29681۔

[2] ... بخاری، کتاب الاذان، باب اقامۃ الصف من تمام الصلاۃ، صفحہ:239، حدیث:722۔

[3] ... ابو داود، کتاب الصلاۃ، باب فی الصلاۃ تقام ولم یأت الامام ... الخ، صفحہ:100، حدیث:543۔

[4] ... ابو داود، کتاب الصلاۃ، باب فی الصلاۃ تقام ولم یأت الامام ... الخ، صفحہ:100، حدیث:543۔

[5] ... مسند بزار، مسند ابی جحیفۃ، جلد:10، صفحہ:159، حدیث:4232۔

[6] ... لواقح الانوار القدسیۃ، العہد الثامن والثلاثون فی المحافظۃ علی تسویۃ الصف، جلد:1، صفحہ:189۔

[7] ... معجم اوسط، جلد/4، صفحہ:35، حدیث:5121



www.dawateislami.net

کېږي، په هغې کښې يو نيک کار اِيثار هم دے. ډېره مشهوره واقعه ده چې په بارګاهِ رسالت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم کښې يو ځل يو وږے شوے ګس حاضر شو، خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د د ټولو امهاتُ المُؤمنين رضی اللہ عنہن په کورونو کښې تپوس وکړو چې د خوراک د پاره څۀ ميلاؤ شي خو د چا سره هم د خوراک څۀ څيز نه وو. رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم صحابۀ کرامو علیہم الرضوان ته ووفرمائيل: څوک چې دا ګس ميلمه کړي **الله** پاک دې په هغۀ باندې رحمت نازل کړي. حضرت ابو طلحه انصاري رضی اللہ عنہ پاڅيدو او ميلمه يې د ځان سره خپل کور ته بوتللو، په کور کښې يې د خپلې کور وداني نه تپوس وکړو: په کور کښې څۀ خوراک شته؟ هغې ووئيل: صرف د ماشومانو د پاره مې لږ شان ساتلے دے. حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ ووفرمائيل: ماشومان په څۀ بهانه اُوده کړه او چې کله ميلمه د خوراک د پاره کښيني نو د ډيوې د صحيح کولو په بهانه پاڅه او ډيوه مړه کړه، د پاره د دې چې ميلمه ځان موړ کړي. دا ترکيب يې د دې د پاره وکړو چې ميلمه ته دا پته اونه لګي چې کوربه د هغوئي سره خوراک نه کوي ګني بيا به وائي چې تاسو هُم اوخورئ او خوراک لږ دے، نو ميلمه به وږے پاتې شي. دغه شان حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ په ميلمه خوراک وکړو او پخپله د کور خلق وږي پاتې شول او شپۀ يې تيره کړه. چې کله سحر شو او په بارګاهِ نُبّوت کښې حاضر شو نو د **الله** پاک محبوب صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ ته وکتل او اوئې فرمائيل: د شپې د فلانکي فلانکي په کور کښې عجيبه معامله پيښه شوه. **الله** پاک چې هغوئي ته اوکتل نو مُسکے شو (يعني ډېر راضي شو). د دې واقعې په باره کښې د سُورۂحَشر دا آيت نازِل شو: (1)

[1] ...بخاری، کتاب التفسیر، باب سورۂ حشر، صفحہ:1253، حدیث:4889

وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ وَ لَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﳴ وَ مَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَۚ(۹) (پارہ:28،اَلْحَشر:9)

[مفهوم]ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او هغوئي [ته] په خپلو ځانونو ترجيح ورکوي اګر که هغوئي پخپله حاجت لري، او څوک چې د خپل نفس د لالچ نه بچ کړے شو نو هُم هغه خلق کامياب دي (۹)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې اِيثار کول هم د **الله** پاک د راضي کولو والا کار دے.

## اِيثار څۀ ته وئيلے شي...؟

د اِيثار معنیٰ ده: د نورو خواهش او حاجت له پۀ خپل خواهش او حاجت باندې ترجيح ورکول. [1] پۀ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د يو څيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حصار کړي او (بَل چا له) ترجيح ورکړي، نو **الله** پاک هغۀ بخښي. [2]

## د مدينے مهے

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بن عُمر رضی اللہ عنہ بيمار وو، په زړه کښې ئې د سور کړي **مهي** خوړلو خواهش پيدا شو. د هغوئي رضی اللہ عنہ خادِم حضرتِ سَيِّدُنا **نافِع** رضی اللہ عنہ فرمائي: د ډير زيات تلاش نه پس ما د يو نيم دِرهَم يو **مهے** په مدينۀ مُنَوَّره کښې پيدا کړو، ما هغه سُور کړو او د هغوئي رضی اللہ عنہ په خِدمت کښې مې وړاندې کړو، په دې کښې يو سوالګر راغے، هغوئي رضی اللہ عنہ اُوفرمائيل: نافِع! دا **مهے** سوالګر ته ورکړه. ما عرض اوکړو چې تاسو د دې ډير خواهش لرلو ځکه ما په ډير کوشش دا **د مدينے مهے**

[1]...مدینے کی مچھلی، صفحہ:3

[2]...احیاء علوم الدین، کتاب کسر الشہوتین، بیان طریق الریاضۃ فی کسر شہوات البطن، جلد:3، صفحہ:115۔



www.dawateislami.net

اخستے دے دا تاسو رضی الله عنه اوخورئ زه به سوالګر ته د دې **مهـي** قيمت ورکړم. هغوئي رضی الله عنه اُوفرمائيل چې نه، ته هغه ته هُم دا **مهـے** ورکړه چنانچه ما هغه **د مدينے مهـے** هغه سوالګر ته ورکړو او بيا وريسې ورغلم او په بيعه مې ترې واخستو او راغلم بيا مې هغوئي رضی الله عنه ته وړاندې کړو. هغوئي ارشاد اُوفرمائيلو: دا **مهـے** هُم هغه سوالګر ته ورکړه او کوم قيمت چې دې ورته ادا کړے دے هغه هُم ورته پريږده. ما د حُضُور تاجدارِ مدينه صلّی الله علیه واٰله وسلّم نه اوريدلي دي: "**څوك چې د كوم يو څيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حصار كړي او په خپل ځان** (بل څوك) **غوره كړي** [يعني بل ته ئې وركړي]، **نو الله تعالیٰ به هغه اُوبخښي.** (1)

## د حضرت فاطِمې بي بي رضی الله عنها اِيثار

حضرتِ سَيِّدُنا امام حسن رضی الله عنه فرمائی: يوه ورځ د يو وخت د لوَږې تيرلو نه پس زمونږ په كور كښې طعام جوړ شو، زما نيكه بابا جان حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رضی الله عنه او زما كشر ورور حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حُسين رضی الله عنه د طعام نه فارِغ شوي وو خو مور مُحترمې سَيِّدَةُ النِّساء فاطِمَةُ الزَّهرا رضی الله عنها لا نه وو خوړلے، هغې رضی الله عنها چې خنكه ډوډئ ته لاس كړو په دغه وخت كښې په دروازه كښې يو سوالګر غږ اوكړو: "اے بِنتِ رَسُولُ‌الله! زه د دوه وختو اوږے يم ما موړ كړئ." مور محترمې رضی الله عنها فوراً د خوراک نه لاس اودرولو او ما ته ئې حُكم اوكړو چې لاړ شه! دا طعام سوالګر ته وركړه، زه خو د يو وخت اوږي يم او هغه د دوه وختو راستې نه ده خوړلي (2)

بھوکے رہ کے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابر تھے محمد کے گھرانے والے

1 ...احیاءعلوم الدین، کتاب کسر الشہوتین، بیان طریق الریاضۃ فی کسر شہوات البطن، جلد:3، صفحہ:115۔

2 ...مدینے کی مچھلی، صفحہ:24۔



www.dawateislami.net

## په نورو د خوړلو ښنلو عظیم الشان ثواب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو اولیده چې سَیِّده خاتُونِ جَنَّت رضی اللہ عنہا د لوَږې باوجود خپل طعام **اِیثار** کړو! افسوس چې! مونږه د اَهلِبَیتِ نُبُوَّت سره د **مَحَبَّت** لرلو د دعوې باوجود د خپل ضرورت نه پاتې شوے طعام چا ته د ورکولو په ځائے په فریج کښې د آئنده د پار ساتو. یقین اوکړئ چې په اوږو طعام خوړلو او تږو باندې اوبه ښنبل د غټ ثواب کار دے. په دې باره کښې **دوه فَرامینِ مُصطَفیٰ** صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم واورئ:

﴿۱﴾ کوم مسلمان چې په یو اوږي مسلمان طعام اوخوري نو **الله** تعالیٰ به په هغه په ورځ د قیامت د جَنَّت میوې اوخوري او څوک چې په یو مسلمان په تنده کښې اوبه اوڅښنبي نو **الله** تعالیٰ به په هغه په ورځ د قِیامت د مُهر والا پاک او صفا شراب اوڅښنبي او کوم مسلمان چې یو بے لِباسه مسلمان ته جامې واغوندي نو **الله** تعالیٰ به هغه ته د جَنَّت **شنې جامې** واغوندي.[1] ﴿۲﴾ څوک چې په یو مسلمان په لوَږه کښې طعام اوخوري او موړ ئې کړي نو **الله** تعالیٰ به هغه جَنَّت ته په هُغه دروازه داخِل کړي په کومه چې به صرف د هغه په شان خلق داخِلیږي.[2]

کھلانے پلانے کی توفیق دیدے | پئے شاہِ کرب و بلا یا الٰہی

## ځانګړے دسترخوان

د حضرتِ سَیِّدُنا شیخ ابُو الحسن اِنطاکي رحمۃ اللہ علیہ کره یو ځل ډیر میلمانه راغلل. ماښام چې کله د طعام وخت شو نو **ډوډئ** کمې وې، چنانچه ډوډئ ئې ټکړې ټکړې

---

1---- سُنَنُ التِرمِذِی، ج۴ ص۲۰۴ حدیث ۲۴۵۷

2... معجم کبیر، جلد:8، صفحہ:418، حدیث:16589۔



www.dawateislami.net

کړې او په دسترخوان ئې کېښودې او د هغه ځائے نه ئې ډېوه لرې کړه، ټول ميلمانه په تِياره کښې **دسترخوان** ته کښيناستل، چې لږ ساعت پس په دې خيال ډېوه راوړے شوه چې اوس خو به ټولو خوړلې وي نو ټولې ټکړې هُم هغسې موجودې وې او د **اِيثار** د جذبې په وجه چا يوه نمړئ هُم نه وه خوړلې ځکه چې د هر يو دا سوچ وو چې زه دې ئې اُو نه خورم خو چې پۀ خوا کښې ناست ورور مې موړ شي. (1)

## د خپل ضرورت د څيز ورکولو فضيلت

**الله! الله!** زمونږه اَسلافو د **اِيثار** څومره عجيبه **جذبه** لرله او آه! نن سبا زمونږه د حِرص او طمعې جذبه، چې کله يو دعوت له لاړ شو او طعام شروع شي نو په خوراک داسې اخته شو چې د خوراک طريقه او نمړئ جُوول هُم را نه هير شي او بس دغسې ئې خيټې ته غورزول شروع کړو، چې هسې نه ما سره ناست بل کس په خوړلو کښې کامياب شي او مونږه پاتې شو! زمونږه د حِرص حالت څه داسې وي چې که وَس مو اوشي نو د بل د خُلې نه به نمړئ واخلو او پخپله به ئې اوخورو! کاش چې! مونږه هُم **اِيثار** کول زده کړو.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّى الله عليه وآله وسلّم

ہمیں بھوکا رہنے کا اَوروں کی خاطر | عطا کر دے جذبہ عطا یاالٰہی!

## د اِيثار ثواب پۀ مفتو کښې د حاصلولو نُسخې

کاش چې زمونږه هم د اِيثار جذبه نصيب شي، که څۀ خرچ کول مو زړۀ نه غواړي نو بغير د خرچ کولو هم ډېرې موقعې ميلاويدے شي. مثلاً ❀ چرته دعوت له لاړ شو، د ټولو د پاره خوراک کېښودے شي مونږه ښۀ بوټي وغيره پۀ دې نيت نه خورو چې بَل به

[1]...اتحاف السادة المتقين، كتاب ذم البخل...الخ، بيان الايثار وفضله، جلد:9، صفحه:783



www.dawateislami.net

يـې اوخوري ❁ کرمي ده پۀ کمره يا جومات کښې يو څو کسان ناست دي، ښځپله د پـکـي لاندې د کښيناستو پۀ ځائے نورو له موقع ورکړو او ❁ هم دغه شان پۀ بس يا ريل ګاډي کښې چې کله رَش وي نو نور خلق پۀ خپل ځائے باندې کښينول او ❁ که د سنتو پۀ اجتماع وغيره کښې ښۀ ځائے ميلاو شي نو د نورو اِسلامي ورونړو د پاره ځائے فراخه کول او يا هغوئي له هغه ځائے ورکول او ❁ چې خوراک کـم وي او خوراکيان يـې زيات وي نو ښځپله لږ خوړل يا بالکل نه خوړل او هم داسې پۀ بے شميره موقعو کښې نفس له د لږ شان تـکـليف ورکولو سره پۀ مفتو کښې د اِيثار ثواب ګټلے کيدے شي.

## د اِيثار ثواب بے حسابه جنّت

د حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ نه منقول دي: **الله** پاک حضرت موسیٰ علیہ السلام ته ووفرمائيل: اے موسیٰ! يو کس داسې نشته چې هغه پۀ ټول عمر کښې اګر که صرف يو ځل اِيثار وکړي او زۀ د قيامت پۀ ورځ د هغۀ نه د حِساب غوښتلو په وخت حيا اونـکـړم! د هغۀ مقام جنّت دے، هغۀ چې چرته هم غواړي اوسيږي دي. (1)

## د چيلۍ سر

يو صحابي رضی اللہ عنہ د تُحفې په طور بل صحابي رضی اللہ عنہ کره **د چيلۍ سر** اوليږلو نو هغوئي دا اُوفرمائيل چې زما فلانـکـے ورور د دې سر زما نه زيات ضرورتمند دے نو هغه سر ئې د هغه کور ته اوليږلو نو هغوئي اووئيل چې فلانـکـے زما نه هُم زيات حاجتمند دے او دغسې هغه سر ئې د يو بل صحابي رضی اللہ عنہ کور ته اوليږو. دغسې يو د بل کور او بل د بل کور ته هغه سر ليږو تر دې چې د چيلۍ هغه سر په اووه کورونو راتاو شو او بيا

---

[1] ...احیاء علوم الدین، کتاب ذم البخل وذم حب المال، بیان الایثار وفضلہ، جلد:3، صفحہ:318۔



www.dawateislami.net

هغه وروميي صحابي ته راورسيدو. (1)

## قطبِ مدينه د اِيثار کوونکي سوداګر حکايت بيان کړو

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو اوليده چې د غريبۍ او لوَږې باوجود زمونږه په صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان کښې څومره د اِيثار جذبه وه چې هر يو د خپل ځان په مقابله کښې بل غوره کولو او آه! نن سبا حالات بالکل مختلِف دي، اکثر خلق د خپل ورور په مرګ چاړه راښکلو کښې مصروف دي. **قُطبِ مدينه** حضرت مولانا ضياءُ الدِّين مَدَني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د تُرکو د وخت نه په مدينهٔ مُنَوَّره کښې اوسيدلو. د هغوئي وِصال [يعني وفات] په 3 ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام 1401 سنِ هِجري کښې په مدينهٔ مُنَوَّره کښې اوشو او په جَنَّتُ الْبَقِيع کښې دفن شو. هغوئي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ته چا عرض اوکړو چې جناب! کله چې تاسو په شروع شروع کښې مدينے مُنَوَّرې ته راغلئ نو د هغه وخت مسلمانان څنګه وو؟ هغوئي اوفرمائيل چې يو مالدار کس په ډير مِقدار کښې د مدينے مُنَوَّرې په غريبانانو کپړه تقسيمول غوښتل، نو په دې غرض هغه يو دُکاندار ته اُووئيل چې ما ته د فلانکئ کپړې دومره دومره تانونه پکار دي، دوکاندار اُووئيل: "تاسو چې کومه کپړه غواړئ هغه زما سره موجوده ده خو تاسو مهرباني اوکړئ او د هغه مخامخ دُکان نه ئې واخلئ، ځکه چې اَلْحَمْدُلِلّٰه زما نن ښه سودا خرڅه شوي ده او د هغه عاجزه سودا نن کمه خرڅه شوي ده." [قُطبِ مدينه] اُوفرمائيل چې پخواني مسلمانان داسې د اِخلاص او اِيثار نمونه وو او د نن سبا مسلمانان خو تاسو وينئ چې د دوئي اکثريت څنګه په مال راټولولو او د يو بل په مرګ پۀ چاړۀ راښکلو کښې مشغول دي. (2)

---

1...مستدرک، تفسیر سورة الحشر، قصة ایثار الصحابة، جلد:3، صفحہ:299، حدیث:3852

2...مدینے کی مچھلی، صفحہ:29، 30



www.dawateislami.net

## خپل خوراک يــې پۀ سپي باندې اِيثار کړو!

**حُجَّۃُالاِسلام** اِمام ابو حامِد محمّد بِن محمّد غزالي رحمۃُاللہِ علیہ په اِحۡيَاءُالۡعُلُوم جِلد 3 کښې فرمائي: منقول دي چې حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن جَعفر رحمۃُاللہِ علیہ د خپلې زمکې کتلو د پاره اُووتلو او په لاره کښې يو باغ ته ورغلو، هلته ئې يو غُلام په کار کولو اوليدو، چې کله هغه [غُلام] له طعام راغـے نو د يو طرف نه يو سپے هُم راغـے، غُلام يوه يوه ډوډۍ ور اچوله او دغسې ئې درې ډوډۍ ور واچولـې، هغه سپي هغه ټولې اُوخوړلـې. سَيِّدُنا عبدُالله بِن جَعفر رحمۃُاللہِ علیہ د هغه غُلام نه تپوس اوکړو چې تا ته د ورځې څومره طعام درکول شي؟ هغه عرض اوکړو چې هُم دومره کوم چې تاسو اوليدو. هغوئي اُوفرمائيل چې هغه خو تا ټول سپي ته اِيثار کړو! هغه عرض اوکړو چې په دې علاقه کښې سپي نه وي، دا چرته د لرې ځائے نه راغلے دے، عاجزه اُوږے وو، ما ته دا ښه ښکاره نه شوه چې زه خو ځان موړ کړم او دا بے زبانه ځناور اُوږے پاتې شي. هغوئي ورته اُوفرمائيل چې نن به ته څه خورې؟ هغه عرض اوکړو چې: لوَږه به تيروم. حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن جَعفر رحمۃُاللہِ علیہ د هغه غُلام د اِيثار نه ډير مُتأَثِّره شو او د هغه باغ د مالِک نه ئې هغه باغ، هغه غُلام او باقي ټول سامان په بَيعه واخستو، هغه غُلام ئې آزاد کړو او هغه باغ وغيره هر څه ئې هغه ته ورکړل.(1)

## د بيان خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د دې يو څو حديثونو مبارکو د اوريدو سعادت حاصل کړو، پۀ کومو کښې چې د دې اعمالو ذِکر دے، که بنده دا کارونه وکړي نو **الله** پاک بنده ته ګوري او [د خپل شان لائق] مُسکے کيږي يعنې ډير راضي کيږي او چې چا ته

1...احیاءعلوم الدین، کتاب ذم البخل وذم حب المال، بیان الایثار وفضلہ، جلد:3، صفحہ:318۔



www.dawateislami.net

**الله** پاک وګوري او مُسکے شي، هغهٔ به جنّت ته بے حسابه داخليږي: د دې يو څو اعمالو پهٔ باره کښې مونږ واوريدل [يعنې] **(1):** د خپلو ګناهونو معافي غوښتل يعنې اِستِغفار کول **(2):** د شپې چې کله خلق اوده وي، هغه وخت راپاڅيدل او عبادت کول **(3):** د شپې دُرُودِ پاک لوستل **(4):** تلاوت کول **(5):** پهٔ نـمونځ کښې صفونه سيدها ساتل **(6):** او اِيثار کول.

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس اوس زمونږ نوے ژوند شروع شوے دے، د اوس نه دا ښهٔ ښهٔ او نيک کارونه مستقل طور پهٔ خپل عادت کښې د شاملولو عادت جوړ کړئ! **الله** پاک دې مونږ ته د دې ټولو کارونو کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د تفسير اوريدو او اورولو حلقه

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پهٔ زړهٔ کښې د عشقِ رسول زياتولو، پهٔ سنتو باندې د عمل کولو، د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلئ! د دې پهٔ برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه درنصيب شي. د ذيلي حلقې پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو حلقه** هم ده. ❁ قرآنِ مجيد زده کول ډير د فضيلت کار دے: ❁ پهٔ حديثونو کښې داسې مضمون دے: پهٔ داسې حال کښې سبا کړه چې يا خو تهٔ عالِم يـې او يا د دِين طالبِ عِلم [1] ❁ د يو روايت مطابق سحر د قرآنِ مجيد يو آيت زده کول د 100 رکعتو نفلونو کولو نه بهتر دے. [2] ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس د تفسير اوريدو

---

[1] ...دارمی، المقدمۃ، باب فی ذہاب العلم، صفحہ:96، حدیث:254۔

[2] ...ابن ماجہ، باب فضل من تعلم القرآن وعلمہ، صفحہ:48، حدیث:219۔



www.dawateislami.net

او اوررولو حلقه لګوي ❀ په دې کښې د قرآنِ پاک درې آيتونه ❀ د هغې ترجمه او تفسير اوريدے او اوررولے شي ❀ د فيضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ❀ شجره شريف لوستلے شي ❀ دُعا کيږي او ❀ په آخِره کښې د اشراق او څاښت نـفلونه هم ادا کولے شي

**❀تاسو هم د تفسير اوريدو او نورو ته د اوررولو حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم!** ډير برکتونه به درنصيب شي ❀ د **حديثِ پاک** مطابق څوک چې سحر جومات ته د نيکۍ زده کولو د پاره لاړ شي، هغۀ ته د عمرې ثواب ميلاويږي. [1] ❀ چې د سحر وخت مو په نيکو کښې تير شي نو برکت به درنصيب کيږي ❀ ټوله ورځ به مو ښۀ تيريږي ❀سحر سحر به د عِلمِ دِين زده کولو موقع درنصيب کيږي ❀ د شجرې شريفې په لوستلو کښې به د نيکانو بندګانو ذِکر کول درنصيب کيږي ❀ د هغوئي محبت به مو په زړۀ کښې پيدا کيږي ❀ د اوليائے کرامو رُوحاني توجه به درنصيب کيږي ❀ ايمان به مو تازه کيږي ❀ د هغوئي په وسيله کړې دُعاګانې به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! قبليږي ❀ يو ډير لوئي برکت دا چې د سحر **د نـمونځ نه تر اشراق پورې په جومات کښې ايساريدل د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي** په دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصيب کيږي ❀د **حديثِ پاک** مطابق څوک چې د سحر د نـمونځ نه پس په ذِکرُ الله کښې مشغول اوسي، بيا د اشراق، چاشت نفلونه وکړي، هغۀ ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کيږي. [2]

## ويزې ميلاؤ شوې

يو اِسلامي ورور تقريباً د 14 کالو نه په بهر ملک کښې دے چرته چې د هغۀ خپل کاروبار دے، هغۀ ته يو ځل په کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پيښ شو. هغۀ د

[1] ...مستدرک، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحہ:281، حدیث:317-

[2] ...شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:420، حدیث:3957-



www.dawateislami.net

ویزو د پاره بیا بیا درخواستونه جمع کړل، خو د ډیرو کوششونو باوجود ویزې میلاؤ نه شوې. ډیر کلونه داسې تیر شو، هغه ډیر پریشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي په وجه هغهٔ نقصان کولو. خیر هغهٔ همت وکړو یو ځل بیا درخواست جمع کړو، په دغه وخت کښې یو اِسلامي ورور هغهٔ ته د **شجرهٔ قادریه عطاریه** نه د شجرهٔ عَالِیَه د دُعائیه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه. د **شجرهٔ قادریه رضویه ضیائیه عطاریه** لوستو په برکت د هغهٔ هُغه کار کوم چې د تیرو ډیرو کلونو راسې نه کیدو، ډیر په حیرانئ سره په یو څو ورځو کښې وشو او **هغهٔ ته ویزې میلاؤ شوې**.

مُشکلیں حَل کر شہِ مُشکل کُشا کے واسِطے | کر بَلائیں رَد شہیدِ کربَلا کے واسِطے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## بهارِ شریعت موبائل ایپلي کیشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجئ په ذریعه هم په مختلف انداز کښې د نیکئ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا ډیر ښکلے، ځانګړے او ډیر فائده مند موبائل ایپلي کیشن د **بهارِ شریعت** (***Bahar e shariyat***) په نوم جاري کړے شوے دے ❁ د صدر الشّریعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د ډیر اعلیٰ کتاب **بهارِ شریعت** درې واړه جلدونه په دې ایپلي کیشن کښې شامل کړے شوي دي ❁ د دې نه علاوه په بهارِ شریعت کښې شامل د قرآنِ پاک آیتونه، حدیثونه، اصطلاحات او لغت د دې ایپلي کیشن حصه ده ❁ تاسو په ایپلي کیشن کښې متن هم لټولے شئ ❁ د سرچ نور ښهٔ کولو د پاره په دې کښې د اُردو ''کي بورډ'' سهولت



www.dawateislami.net

هم موجود دے د پاره د دې چې په ايپلي کيشن کښې په لټون کښې اساني وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د ځينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. [1]

ہر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلّغ مجھے سُنّت کا بنا دے [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ګوتمې په باره کښې سُنَّت او آداب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نارينه د پاره د سرو زرو ګوتمه اچول حرام کار دے. د دواړو جهانونو سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو د ګوتمې اچولو نه منع فرمائيلې ده ❀ نابالغه (يعني ډير وړوکي) هلک ته (هم) د سرو زرو سپينو زرو کالے اچول حرام دے او چا چې ورته واچولو هغه به ګنهګاريږي، دغه شان د هلکانو په لاسونو او ښپو باندې بغير د ضرورت نه نکريزه لګول جائز کار نه دے. زنانه يې پخپله په خپلو لاسونو او ښپو باندې لګولے شي، خو که هلک له يې ولګوي نو ګنهګاريږي به ❀ د اوسپنې ګوتمه د دوزخيانو کالے دے ❀ د نارينؤ د پاره هغه ګوتمه جائز ده کومه چې د نارينؤ د ګوتمې په شان وي يعني صِرف د يو غمي والا وي او که چرې په هغې کښې (د يو نه

[1] ...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
[2] ...وسائل بخشش، صفحہ:115۔

زيات يا) ډېر غمي وي نو هغه اګر که د سپينو زرو وي، د نارينؤ د پاره جائز نه ده ❁ بغير د غمي نه ګوتمه اچول جائز نه ده چې دا ګوتمه نه ګڼړه ده ❁ د سپينو زرو د يوې ګوتمې د يو غمي وزن چې د څلور نيمو ماسو (يعني څلور ګرامه 374 ملي ګرامو) نه کم وي، اچول يې جائز دي ❁ په اخترونو کښې ګوتمه اچول مستحب عمل دے. خو نارينه دې هغه جائز والا ګوتمه اچوي ❁ نارينه له پکار دي چې د ګوتمې غمے د لاس تَلي طرف ته اَړَوي او زنانه دې د لاس شا طرف ته ساتي ❁ د سپينو زرو ګڼړه خاص د زنانؤ جامه ده د نارينؤ د پاره مکروه (تحريمي، ناجائزه او ګناه ده) ❁ زنانه چې د سرو زرو او سپينو زرو څومره هم ګوتمې او ګړې اچوي اچولے يې شي، په هغې کښې د وزن او د غمو د شميرې څه قيد نشته ❁ د اوسپنې ګوتمې ته د سپينو زرو خول اچول چې اوسپنه پکښې بيخي نه ښکاري، د دې ګوتمې اچول (د نارينه او زنانه دواړو د پاره) منع نه دي. [1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

[1] ...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:57و58ملتقطاً۔
[2] ...وسائل بخشش، صفحہ:669۔



www.dawateislami.net

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم.

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْـحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِ نَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا



www.dawateislami.net

ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لا که دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لا کو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى الله

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹



www.dawateislami.net

عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيع اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

## جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

---

1 ...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2 ...الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3 ...مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

4 ...تاريخ ابنِ عساکر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥



www.dawateislami.net

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net